میرویس جواد

۲۰۱۲/۰۸/۰۷

# ایرانـــي رسنۍ د نابــودۍ پـیـل

د دوشنبې په ورځ یوې خپلواکې ورځپاڼې خبر ورکړ، چې په کابل کې د ایران سفارت کلتوري اتشې ناصر جهان شاهي د زمري میاشتې په ۱۳ د جمعې ماښام د روژه ماتې په مېلمستیا کې، چې د ایران سفارت له لوري د یو شمېر رسنیو استازو لپاره تر سره شوې وه د رسنیو له استازو څخه غوښتنه وکړه، څو د ایران ګټو پر بنسټ دې په افغانستان کې د خبریالانو یوه ټولنه رامنځ ته کړي. د دغې ټولنې ټول لګښت به د ایران سفارت پر غاړه وي.

ورځپاڼه لیکي، چې په دغې مېلمستیا کې د تمدن تلویزیون مشر جواد محسني، له نور تلویزیون څخه ضیا دانش ، د انصاف ورځپاڼې او آوا خبري آژانس مشر او په افغانستان کې د آیت الله مکارم شیرازي استازی حسیني مزراي، د شاخص له ورځپاڼې څخه ذکي، د کوثر تلویزیون استازی، له رشد اوونیزې څخه حیدري، د صحیفه اوونیز مسوول مدیر فصیحي، له آیینه تلویزیون څخه ذکریا راحل او د محمد حسین جعفري، رضواني بامیاني او جعفري کندزي په ګډون یو شمېر نورو کسانو برخه اخیستې وه.

په یادې مېلمستیا کې د ایران کلتوري اتشې ناصر جهان شاهي له یادو افغان خبریالانو څخه غوښتې دي، څو د ګډو موخو تر لاسه کولو لپاره دې متحد شي.

په مېلمستیا کې پرېکړه شوې، چې رضواني بامیاني دې د دغه ټولنې د مشر، جواد محسني د لومړي مرستیال او ذکریا راحل دې د دویم مرستیال په توګه دنده تر سره کړي.

د ایران له لوري د داسې یوې خبریالې ټولنې رامنځ ته کول، چې په بشپړه توګه دې د دغه هېواد ګټې په پام کې ونیسي د افغانستان په کورنیو چارو کې ښکاره لاس وهنه ده.

له دې وړاندې هم ایران هڅې کړې وې، څو دا شان ټولنې رامنځ ته کړي، چې ښه بېلګه یې د رسنیو پیوستون مرکز (مرکز همبستګي رسانه ها یا مهر) ده. د دغه مرکز مشر د حسیني مدني په نامه یو کس کوي، چې له ایران څخه هېواد ته ستون شوی او ویاند یې ذکریا راحل دی.

په افغانستان کې د امریکا په مشرۍ د ناټو ځواکونو له راتګ سره جوخت، ایران د دې لپاره څو وکولای شي دغو ځواکونو په ځانګړي توګه امریکا ته په افغانستان کې سرخوږی پیدا کړي او د فعالیت مخنیوی یې وکړي؛ له یوه لوري یې د دولت له وسله والو مخالفینو سره خپلو مرستو ته دوام ورکړ، دغه مخالفین یې په وسلو سمبال کړي او حتی په خپله خاوره کې یې د افغان دولت وسله والو مخالفینو روزنځایونه جوړ کړي دي او له بل لوري یې په رسنیز ډګر کې پراخ فعالیت پیل کړی دی، چې د دغه فعالیت په لړ کې لاندې رسنیو ته نغوته کولای شو.

- تمدن تلویزیون
- نور تلویزون
- کوثر تلویزیون
- شبکه اطلاع رسانی افغانستان
- آوا خبري آژانس
- جمهور خبري آژانس
- آفتاب خبري آژانس
- انصاف ورځپاڼه
- شاخص ورځپاڼه
- سخن جدید ورځپاڼه
- ملي مشارکت اوونیزه
- صحیفه اوونیزه
- رشد اوونیزه
- خرد اوونیزه
- اقتدار ملی اوونیزه
- برګ اوونیزه
- انسجام اوونیزه


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

- راه نجات اوونیزه
- ثبات اوونیزه
- پنجره اوونیزه
- میلاد وحدت اوونیزه
- سنجه اوونیزه
- مجتبی میاشتنی (د ماشومانو لپاره)
- مرکز همبستگی رسانه ها (مهر)

له یاد شویو رسنیو څخه یو شمېر یې نېغه په نېغه د ایران له لوري رامنځ ته شوي دي، چې ټول مالي لګښت یې د دغه هېواد له لوري ورکول کېږي او رسنیزه پالیسي هم د ایران له لوري رامنځ ته شوې ده؛ خو یو شمېر نور یې په خپلواکه توګه رامنځ ته شوي،چې وروسته بیا د ایران په لومو کې لوېدلي دي او د دغه هېواد په خوښه خپل رسنیز فعالیت مخ ته وړي.

ایران نه یوازې د افغانستان په رسنیز ډګر کې پراخې لاسوهنې او پراخ فعالیت کوي؛ بلکې د پوهنې او لوړو زدکړو په برخه کې یې هم د خپلو ګټو پر بنسټ ګڼ شمېر پوهنتونونه، ښوونځي او دیني مدرسې رامنځ ته کړي دي. په دغو روزنځایونو کې هغه کسان په زدکړو بوخت دي، چې د ایران د ګټو ساتونکي دي.

د ایران له لوري په افغانستان کې د دوی د ګټو پر بنسټ د خبریالانو ټولنې رامنځ ته کول به نه یوازې د دې لامل شي، چې د هېواد ملي ګټو پر بنسټ د ایران ګټو ته ډېره پاملرنه وشي؛ بلکې د دې لامل به هم شي، څو د هېوادوالو ترمنځ لا درز پیدا شي، نو له دې امله افغان دولت په ځانګړي توګه د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته لازمه ده، چې د دغې ټولنې د رامنځ ته کېدو مخنیوی وکړي. که چېرې د دغې ټولنې او په افغانستان کې د ایران ګټو پر بنسټ د رامنځ ته شویو رسنیو د فعالیت مخنیوی و نه شي، نو لرې نه ده، چې هېواد به له یوې بلې بدبختۍ سره، چې اوس هم تر یوه برید را ټوکېدلې او هغه د افغانانو ترمنځ د بېلوالي رامنځ ته کېدل دي مخ شي، چې کابو کول به یې افغان دولت لپاره ناشوني وي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ